مطبوعاتي اعلامیه

د ۲۰۱۶ کال د ډسمبر ۱۴مه نېټه

## د مدني ټولنې ، رسنیو او دولت ترمنځ د همکاریو چوکاټ کنفرانس

د افغانستان د ۳۴ ولایتونو څخه د مدني ټولنې ، رسنیو او د حکومت په استازیتوب ، تر ځلور سوو زیات کسان د روان کال د ډسمبر د ۱۴مې څخه تر ۱۵مې نېټې پورې په کابل کې د مدني ټولنې ، رسنیو او دولت ترمنځ د همکاریو چوکاټ کنفرانس لپاره راټول شوي وو. دغه دوه ورځنۍ غونډه چې د امریکا د نړیوالې پراختیایې ادارې د افغانستان د مدني مشارکت پروګرام له خوا په لاره اچول شوي وه ، یوه داسې موقع رامنځته کړه چې د مدني ټولنې ، رسنیو او حکومت ترمنځ په اوسني مشارکت باندې بحث او خبرې اترې وکړي او په ګډه سره د راتلونکو همکاریو او همغږیو د ښه والي لپاره لارې ومومي.

په غونډه کې د مدني ټولنې بانفوذه ادارو ، د رسنیو او حکومت له خوا د لاندې مسایلو په اړه مالومات وړاندې شول:

- په افغانستان کې د مدني ټولنې راتلونکې او دا چې څرنګه مدني ټولنه کولاې شي ولس ته په غورهتوګه خدمت وکړي
- د مدني کاروني لپاره د دولتي یا عامه بنسټونوڅخه مالوماتو ته د لاسرسي د کچې د لوړېدلو څرنګوالی
- په ځایي یا محلي کچه د رسنیو او مدني ټولنې د اړیکو ټینګښت
- څرنګه باید د رسنیو او مدني ټولنې له سترګو د حکومت حسابورکونه او اغیزمنتیا ښه شي
- رسنۍ څنګه کولای شي د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د مدني ټولنې د بنسټونواو حکومت سره مرسته وکړي
- نړیواله ټولنه څنګه کولای شي چې د مدني ټولنو ، رسنیو او حکومت څخه په خورا ښه توګه ملاتړ وکړي

مدني ټولنه او رسنۍ د حکومت د کړو وړو په اړه د خلکو د بشپړ خبراوي څخه د ډاډ په تر لاسه کولو سره د حکومتي چارواکو او ولس ترمنځ د یو پله حیثیت لري. ؛ او همدارنګه ، ولس ته لاره هواروي تر څو ټولیز غبرګونونه او احساسات په تېره بیا د دولت د پالیسیو په اړه انګېرنې بیان کړي..

د امریکا د نړیوالې پراختیایي اداري رئیس ښاغلي هربرټ سمیټ وویل : « د خپلواکو او پیاوړو رسنیو په نه شتون کې چې د حکومت د کړو وړو څارونکې وي ، د یوې خپلواکه ټولنې موجودیت ناشونی دی. » هغه زیاته کړه: «د امریکا نړیواله پراختیایي اداره تل د خپلواکو مدني‌ټولنې او رسنیو پیاوړې ملاتړې وه او په راتلونکې کې به هم همداسې ملاتړه پاتې شي. نوموړې اداره به همدارنګه ، په ټول افغانستان کې د بیان د آزادۍ څخه دفاع وکړي .

د امریکا د نړیوالې پراختیایي اداري اړوند د افغانستان د مدني مشارکت پروګرام یو داسې نوښت دی چې د ۲۰۱۳ کال څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې د مدني ټولنې او رسنیو د مشارکت ملاتړ کوي ، او د دې لارې څخه د افغانستان ولس ته دا زمینه برابروي چې په پالیسۍ یا سیاست باندې اغېز ولري ، د حکومت د حسابورکولو څخه څارنه‌وکړي او د سیاسي اصلاحاتوڅخه دفاع‌وکړي. دغه پروګرام د انټرنیوزشبکې ، د آغاخان بنسټ او د ناانتفاعي قانون د نړیوال مرکز (ICNL) په همکارۍ د کورنټرپارټ انټرنشنل مؤسسې له خوا پلې‌کېږي.

د رسنیو مسئوول:امین شریفي
د اړیکې‌شمیره: ۰۷۸۶۳۰۰۷۹۳
بریښنالیک: rsharify@counterpart.org